**په افغانستان کي د ملګرو ملتونو د مرستي هيئت**

**د ویاند دفتر**
**کابل – افغانستان**

**تیلیفون:** ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
**بریښنا لیک:** spokesperson-unama@un.org
**ویب پاڼه:** www.unama-afg.org

## په افغانستان کې دملګرو ملتونو د سرمنشي سرپرست ځانګړی استازی وينا په کابل سيرينا هوټل باندې د دوشنبې د ورځې د بريدونو په هکله

په کابل کې د سيرينا په هوټل باندې د تيرې شپې بريد زموږ د خورا سترې انديښنې موضوع ده، ځکه چې دا په قصدي توګه د هغو بهرنيو ميلمنو او افغان ملکي کسانو په نخښه کول دي، چې د افغانستان د مرستې او ملاتړ لپاره په ګډه کار کوي.

نړيواله ټولنه دا ډير کلونه کيږي، چې دلته حضور لري او د خپلو افغاني کوربنو له ميلمه پالنې او سخاوت څخه برخمنه ده، دا کار د دې عقيدې له مخې کيږی، چې سوله او پرمختګ بايد د جګړې او ځوريدنې ځای ونيسي. دا عمل د دغو ارزښتونو پر ضد يوه حمله او تر دواړو ملي او نړيوالو قوانينو لاندې يو بې باکانه جرم او جنايت و.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستې پلاوي دا جنايت په کلکه غندي. موږ په دغې ټولنې کې په ټولو افغانانو او بهرنيانو باندې غږ کوو چې له موږ سره لاس يو کړي څو د افغانستان لپاره د سولې د ارمان په پوره کولو کې زموږ ژمنتوب او تعهد دوه برابره کړو.

زه خپلې د زړه له کومې همدردی ټولو هغو کسانو ته وړاندې کوم، چې يرغل ور باندې شوي او د هغو ساتونکو، کارکوونکو او پوليسو زړه ورتوب ته درناوي کوم، چې د هغوي فعاليتونو ښايي لا تر دې هم د زياتې مړينې او ژوبلونې مخنيوی کړی وي.

کابل، د جنوري ۱۵، ۲۰۰۸ کال

---